بسم الله الرحمن الرحيم

## د پولو وېش که د ورونو بېلول؟

**خبر:**

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت ویاندې، ممتاز زهرا بلوچ په اونیزه خبري غونډه کې د چمن سپین بولدک په سیمه کې د پاکستان او افغانستان د امنیتي ځواکونو تر منځ د نښتو په اړه د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: «موږ دې هوکړې ته رسېدلي یو چې د داسې پېښو د مخنیوي لپاره له افغانستان سره جوړ شوي اداري میکانیزم ته دوام ورکړو». (ډېلي ټایمز)

**تبصره:**

په هغو سیمو کې د ځمکې پر سر جګړې چې د یوه بهرني ځواک له لوري ټاکل شوې، په حقیقت کې ان د ځمکې پر سر او قبیلوي شخړو په ډله کې هم نه راځي. دا د زندان د ننه جګړې دي چې اسیر کوونکی یې له نیږدې څاري او په خپل زړه یې جوړوي. په ټوله نړۍ کې د مسلمانانو حالت د بندیانو دی. په افغانستان او پاکستان کې هم خبره همداسې ده؛ دواړه لوري په ویاړ د قدرت ترلاسه کولو په موخه د خپلو پولو دفاع کوي، په داسې حال کې چې دا یې د کمزورۍ کېدو سبب دی. وړاندې تر دې چې دا سیمه د دولت-ملت بڼه خپله کړي، د هغه وخت د هند نیمې وچې او افغانستان یو له بل سره مرسته کوله او نږدې اړیکې یې لرلې. افغانستان چې په اسیا کې «په الوتکه کې د پیلوټ خونې» په نامه یادېږي؛ له ستراتېژیک، رواني، کلتوري، جغرافیایي او سیاسي پلوه د پاکستان له خورا مهمو ګاونډیو څخه دی؛ دا هېواد ډېرو نورو هېوادونو ته د ننوتو لار ده، ځکه خو غرب ته پر افغانستان واک او کنټرول لرل مهم دي. د تاریخ په اوږدو کې یرغلګر، سوداګر او سیلانیان د هند نیمې وچې ته د افغانستان له لارې تلل. په داسې حال کې چې برېتانیا د هند په نیمه وچه کې پر چور او لوټولو بوخته وه؛ افغانستان ته د روسیې نیږدې کېدو د برېتانیې د ترياکو سوداګرې له خنډ سره مخ شوه او په دې توګه د برېتانیا او روسیې ترمنځ پر منځنۍ اسیا د کنټرول پر سر یوه ستره او اوږده لوبه پیل شوه چې په پایله کې یې د ډېورنډ بدنامه کرښه رسم شوه. له سیمې څخه د برېتانیا له شرمه ډکو وتلو وروسته؛ امریکا افغانستان ته پام راواړاوه او په لومړي قدم کې یې په ۱۹۲۱م کال کې افغانستان د یوه خپلواک هېواد په توګه وپېژانده. د وخت په تېرېدو د ګټو له بدلېدو سره ستراتیژۍ هم بدلې شوې. که ښه ځیر شو، وینو چې د جګړې په نامه ځانوژنه کوو او د دښمن وژلو په نامه خپل ورور وژنو؛ دلته قاتل له دښمن سره مرسته کوي. د یوه سازمان عربي او اسلامي نوم په دې معنی نه دی چې دا سازمان د اسلام سمبول یا حمل کوونکی دی. اسلام د ژوند تګلار ده او مسلمان هغه دی چې نه یوازې د اسلام پر اساس ژوند وکړي، بلکې نورو ته هم دا اسانه کوي چې د اسلام پر اساس ژوند وکړي. مسلماني دې ته نه وايي چې یوه ډله جوړه کړې او اسلامي برنډ نوم ورکړې؛ بلکې دې ته وايي چې پر ټولنه اغېز وکړې. اسلام د مکې له کوچني ښار څخه پیل او د الله سبحانه و تعالی په امر په ټوله نړۍ کې خپور شو. د افغانستان او پاکستان ځواکونه دې یو بل ته د دوښمن په سترګه نه ګوري، بلکې باید د مسلمانانو د ژوند او شتمنۍ د ساتنې لپاره اوږه په اوږه کار وکړي.

اسلامي خلافت به ټولې ډلې سره راټولې او په یوه لوی اسلامي ځواک به یې بدلې کړي؛ دا ځواک به په کرښو نه بېلېږي. د مسلمانانو خلیفه به دا یقیني کړي چې د بهرنیو مفکورو نفوذ له منځه تللی او د هغه تر

لاربښوونې او ساتنې لاندې به د امت فزیکي، رواني او فکري ځواک وده وکړي. خلیفه به والیان ټاکي او دا به ترلاسه کوي چې د مسلمانانو د ځمکې هیڅ برخه ناوړه نه کارېږي. په دې ډول کړنو به خلافت د یوه داسې ځواک په توګه راڅرګند شي چې حساب به پرې کېږي. اوس اسلامي امت شاهد دی چې کفار څومره فریب ورکوونکي او حیله‌ګر دي؛ دا به د حزب لخوا له نږدې او په ځیر کتل کېږي چې کوم زیان رسوونکی حرکت ونه کړي. د سرچینو په سمه توګه وېش او د اسانیتاوو برابرول به پر دولت د خلکو باور رامنځته کړي او په دې توګه به یې په خپل منځ کې مینه او مهرباني هم زیاته شي. له ابو هریره رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ مَالُهُ وَعِرْضُهُ وَدَمُهُ حَسْبُ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ « الْمُسْلِمَ»** ( سنن ابو داوود)

*__ژباړه:__ د مسلمان مال، عزت او وینه پر بل مسلمان بالکل حرام دي؛ د یوه سړي لپاره همدومره شر بس دی، چې خپل مسلمان ورور سپک وګڼي.*

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**اخلاق جهان**

**ژباړه: محمد هارون رؤفي**